Download from:aghalibrary

# د جماعت د لمانځه

# ۳۳ فائدي



تألیف : حمدالله «شاکري»




# د جماعت د لمانځه

# ۳۳ فائدې

ليکوال : حمدالله «شاکري»

کال : ۱۴۳۷- ۱۳۹۶

## سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله ربِّ العالمين ، وصلَّى الله وسلَّم على المبعوث رحمة للعالمين ، وعلى آله وأصحابه أجمعين ، اما بعد :

لمونځ د اسلام دوهم رکن دی ، داسې رکن چې په هر مسلمان نارينه او ښځه ، روغ او ناروغ ، غريب او مالدار ، مقيم او مسافر فرض دی دا د اسلام داسې رکن دی چې که څوک يې په ولاړه نشي ادا کولای هغه به يې په ناسته ادا کوي که په ناسته نشي ادا کولای هغه به يې په څملاستو ادا کوي عرض دا چې لمونځ په هيڅ حالت کې نه معاف کيږي د لمانځه د اهميت په باره کې زيات شمير نصوص راغلی چې د لمانځه صحي ادا کول د انسان د دارينو نجات او سعادت دی او ترک يې بربادي ده .

الله سبحانه وتعالى فرمايي [وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلاَتِهِمْ يُحَافِظُونَ ، أُوْلَئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُكْرَمُونَ] (المعارج ٣٥ )

ژباړه: هغه کسان چه دوی د خپل لمانځه ساتنه کوي دغه کسان به په عزت سره د جنت په باغونو کې اوسيږی .





قدسي حديث دی جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:«قَالَ اللهُ تعالى: فْتَرَضْتُ عَلَى أُمَّتِكَ خَمْسَ صَلَوَاتٍ وَعَهِدْتُ عِنْدِي عَهْدًا أَنَّهُ مَنْ حَافَظَ عَلَيْهِنَّ لِوَقْتِهِنَّ أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ ، وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهِنَّ فَلَا عَهْدَ لَهُ عِنْدِي » (ابوداود و صحيح ابن الماجه).

ژباړه: الله سبحانه وتعالى فرمايي چې: ما ستا په امت پنځه وخته لمونځونه فرض کړي دي او ددې مې خپل ځان سره وعده کړې ده چه څوک دا پنځه لمونځونه په خپل وخت کښې ادا کولو پابندي وکړي هغه به پخپله ذمه واری جنت ته داخلومه او څوک چه ددې لمونځونو اهتمام نه کوي نو په ما باندې د هغوی هيڅ ذمه داري نشته .

کوم لمونځ د سعادت او کاميابی سبب دی ؟

هغه لمونځ چې پخپل وخت ادا شي او د ټولو لمونځونو حفاظت او ساتنه وشي :

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ * أُوْلَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ * الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ] (المؤمنون :٩-١١).

ژباړه: اوهغه ( کسان کامياب شول ) چه دوی هميشه د خپلو لمونځونو ساتنه کوي، هم دغه (مؤمنان ) هم دوی دی وارثان هغه (وارثان ) چه په

میراث به اخلي فردوس دوی به پدغه جنت الفردوس کې تل پاتې کیدونکي دي.

د لمانځه د حفاظت په باره کې د امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه فرمان : [إنَّ أهم أمركم عندي الصلاة فمن حفظها فقد حفظ دينه، ومن ضيّعها فهو لما سواها أضيع، ومن المحافظة عليها أداؤها جماعة في المسجد] ( ابن القيم الجوزية ص 403 ).

ژباړه: تر ټولو مهم د تاسې له کارونو څخه ماته لمونځ دی ،پس هر چا چې د هغه حفاظت وکړ هغې خپل دین وساتلو او چا چې هغه ضایع کړ هغه ته د نورو شیانو ضایع کول آسان دي او د هغه کمال او محافظت دا دی چې لمونځ په جمع په جومات کې ادا شي .

هغه لمونځ چې له دنیوي چارو او مشغولتیا څخه لوی او لوړ وګڼل شي : « (و الذکر الله أکبر) که هر څومره مهم کار وي خو چې د لمانځه وخت حاضر شي او د مؤذن نارې ته لبیک وواېي .

مګر هغه کسان چې جماعت ته نه ځي یا ناوخته لمونځ کوي هغوی خپل لمونځ د کار او دنیا تابع ګرځولی ، چې دغه کار خلاص او چې دغه کار خلاص شي نو بیا به لمونځ وکړم ، کار ورته مهم او په لمانځه کې تټي کوي .





په جومات کې په جماعت سره لمونځ ادا کول د لمانځه کمال دی ، دغه وړوکې رساله د هغو کسانو د ترغیب ، ترهیب او تنبه لپاره لیکل شوې ده چې د جماعت له لمانځه څخه غافله دي ، نن عصر کې ډیر مسلمانان جومات ته نه ځي چې کیدای شي دوی د ژوند عیش یا مشغولیت عافله کړي وي او یا د جماعت د ستر اهمیت او فضیلت څخه نا خبره وي په دغه رساله کې د جماعت د لمانځه څو اهم فوائد ذکر شوي دي الله تعالی دې ټولو مسلمانانو د عمل توفیق ورکړي .

و صلی الله تعالی علی محمد صلی الله علیه وسلم و علی اله و صحابه اجمعین .

# د جماعت د لمانځه فایدې

## لومړی فائده

د الله تعالی د أمر اطاعت :

الله سبحانه وتعالی خپلو مؤمنو بنده ګانو ته داسې حکم کړی دی :[وأقيموا الصلاة وآتوا الزكاة واركعوا مع الراكعين] (سوره البقره ۴۳ ).

ژباړه : لمونځ قایموئ او زکات ورکوئ او رکوع کوئ سره له رکوع کونکو (سره له لمونځ کو نکو).

ابن کثیر رحمه الله د پورته آیت شریف په تفسیر کې لیکلي: په جومات کې په جَمع سره لمونځ ادا کول د لمانځه کمال دی ، او ډیر علماء د جماعت د لمانځه د وجوب لپاره همدا آیت دلیل وړاندې کوي (تفسیر ابن کثیر ۱/۲۴۶).

ابن عابدین رحمه الله وایي:

ان صلوة الجماعة واجبة على الراجح في المذهب أو سنّة مؤكدة في حكم الواجب كما في البحر و صرحوا بفسق تاركها و تعزيره و أنه يأثم". (رد المحتار: ۱/۳۳۷، البحر الرائق: ۱/۳۴۱).

یعنې: د جماعت لمونځ په راجح قول سره په مذهب کې واجب دی ، سنت مؤکد په حکم د واجب دی لکه څنګه چې په (البحر) راغلی ، ترک کول یې فسق دی او د پرېښودونکې د پاره تعزیر دی او هغه ګناهکار دی .





## دوهمه فائده

د جماعت لمونځ د اسلام شعار دی :

په جومات کې په جماعت سره لمونځ د اسلام ستره نښه او شعار دی ، علماء کرام وایي : کچیرې د سیمې خلک په تمامه توګه د جماعت لمونځ ترک کړي نو د هغوی سره به د مسلمانانو امام قتال او جنګ تر سره کوي څو دغه د اسلام شعار پر ځای شي .

بحيث يظهر الشعار أي شعار الجماعة بإقامتها، في كل بلد صغير أو كبير. فإن امتنعوا كلُّهم من إقامتها قوتلوا (أي قاتلهم الإمام أو نائبه دون آحاد الناس) (فقه الاسلامي و ادلته /دوکتور وهبة زحيلي).

## دریمه فائده

د جومات آبادول د ایمان نښه ده :

د جومات آبادول په لمانځه سره (پنځه وخته لمونځ په جماعت سره ادا کول) او د جومات ظاهري عمارت او خدمت کول د مؤمن نښه ده او دا عمل د مؤمن په ایمان باندې ګواهي او شهادت دی .

الله سبحانه وتعالی فرمایي:[إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ ....] (التوبة:۱۸).

ژباړه : يقيناً د الله تعالی جوماتونه هغه څوک ابادوي چې پر الله پاک او په ورځ د آخرت ايمان ولري او لمونځ کوي او زکات ورکوي .
رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :اذا رأيتم الرجل يتعاد المساجد فاشهدوا له بالايمان قال الله تعالی: انما يعمر مساجدالله من امن با الله .. الايه (الترمذي ٣٠٩٣).
ژباړه : که چيرې تاسې څوک وليد چې جومات ته د تلو معتاد (عادت ) ولري (د لمانځه او خدمت لپاره ) نو تاسې د هغه د ايمانداری شاهدی ورکړئ .
الله پاک فرمايي : هغه کسان جوماتونه آبادوي کوم چې په الله او ورځ د آخرت ايمان لري .

## څلورمه فائده

الله تعالی جماعت کوونکي ستايلي دي :

د جماعت لمونځ د الله تعالی په کورونو (جوماتونو ) کې ذکر دی ، الله تعالی دغه کسان سايلي دي چې هغوی داسې کلک سړي دي چې بيع او تجارت يې د الله تعالی د ذکر او د لمانځه له قيام څخه نه غافله کوي

[فِي بُيُوتٍ أَذِنَ اللَّهُ أَنْ تُرْفَعَ وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآَصَالِ * رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ * لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ] (النور: ٣٦-٣٨).





ژباړه: په هغو کورونو (جوماتونو) کې چې الله پاک يې د لوړ ساتلو او هلته د خپل نوم يادولو حکم کړی دی سهار او ماښام د هغه ثنا او صفت ويل کيږي ، هسې سړي يې ثنا او صفت وايي چې بيع او تجارت يې د الله له يادولو ، د لمانځه له ودرولو او د زکات له ورکولو څخه نه بې پروا کوي ، له هغې ورځې څخه ډاريږي چې زړونه پکې اوړي را اوړي او سترګې ړدې خيږي . تر څو الله پاک د هغوی د کړنو ښه بدله ورکړي . او د خپلې لورينې لا زياتوالی ور په برخه کړي . او د الله چې چا ته خوښه شي بې حسابه زرق ورکوي .

## پنځمه فائده

د الله تعالی د تأکيد عظمت او احترام :

د الله تعالی د تأکيد عظمت او احترام کول ځکه د جماعت په لمانځه دومره تأکيد شوی دی چې حتی د خوف او جنګ په حالت يې په اداکولو امر شوی دی .

لقوله سبحانه وتعالی: [وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلاَةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُواْ فَلْيَكُونُواْ مِن وَرَآئِكُمْ وَلْتَأْتِ طَآئِفَةٌ أُخْرَى لَمْ يُصَلُّواْ فَلْيُصَلُّواْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُواْ حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ]( سوره النساء آيه 102).

ژباړه : (ای پیغمبره ! ) کله چې د مسلمانانو په مینځ کې او د جنګ په حالت کې په لمانځه ولاړ وې نو پکار ده چه له هغوی څخه یوه ډله له تا سره ودریږي او وا دې خلي (دا لمونځ کونکي ) وسلې خپلې نو کله چې هغوی سجده وکړي نو شي دوی له وروسته ستاسې او را دې شي بله ډله چې لمونځ يې نه وي کړی تا سره دې لمونځ وکړي او وا دې خلي وسلې خپلې ( تیارسئ دې اوسي ).

**شپږمه فائده**

د قیامت په ورځ نور:

په تیاره کې جوماتونو ته تلونکو لپاره به د قیامت په ورځ نور وي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:«بشّر المشائين في الظلم إلى المساجد بالنور التامّ يوم القيامة» (ابؤداود ، ابن ماجه ).

ژباړه : هغو کسانو ته چه په تیاره کې جوماتونو ته ځي زیری ورکړئ په کامل نور سره په ورځ د قیامت (دغه جومات ته تګ به په ورځ د قیامت هغوی ته نور وګرځي).

**اومه فائده**

د ټولې شپې د عبادت ثواب :

د سهار او بیګا د جماعت لمونځ ادا کول د ټولې شپې د نفلي عبادت برابر ثواب لري .





له عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایل :«من صلّى العشاء في جماعة فكأنّما قام نصف الليل، ومن صلّى الصبح في جماعة فكأنّما صلّى الليل كلّه» (مسلم ۶۵۶ ).

ژباړه : څوک چه د نماسختن لمونځ په جَمع ادا کړي داسې دی لکه تر نمې شپې يې چه لمونځونه کړي وي اوڅوک چې د سهار لمونځ په جَمع ادا کړي داسې دی لکه ټوله شپه يې چې په لمونځ کولو سبا کړي وي ( د بیګا او سبا لمونځ په جمع ادا کولو ثواب د ټولې شپې له نفلي عبادت سره مساوي دی )

.

**آتمه فائده**

د جماعت په لمانځه کې زیات فضیلت :

د جماعت لمونځ د یوازې لمانځه څخه پنځه ویشت درجې فضیلت لري .

«صَلاةُ الْجَمِيعِ تَزِيدُ عَلَى صَلاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَصَلاتِهِ فِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً»(بخاری ۲۹۵ )

ژباړه: د جماعت لمونځ د کور او بازار په لمانځه پنځه ویشت درجې زیات او غوره دی .

ابی هریره (رضی الله عنه) روایت کوي چه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي :«لو يعلمون ما في العتمة والصبح لأتوهما ولو حبواً» (متفق علِيه ).

ژباړه : که خلک پوهیدلی چې د بیګا او سبا په لمونځ کولو کې څومره ثواب دی دوی به جومات تللی اګر که په خاپوړو هم وای.

**نهمه فائده**

جوماتونو ته تلونکي کسان به د قیامت په ورځ د عرش تر سیورې لاندې وي .

د بخاري شریف په یوه حدیث شریف کې راغلی : اوه کسان به د قیامت په ورځ د عرش تر سیورې لاندې وي د هغه ډلې یو هم هغه کس دی چې زړه یې له جومات سره تړلی وي »وَرَجُلٌ قَلبُه مُعَلّقٌ بِاالمَسَاجِدِ) « بخاری و مسلم ).

**لسمه فائده**

د نفاق او دوزخ څخه نجات:

څوک چې څلویښت ورځې تکبیر اولی ونیسي هغه به د دوزخ او نفاق څخه نجات مومي .

انس بن مالک رضی الله عنه وایي چې رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَنْ صَلَّى للهِ أَربَعينَ يَومَاً في جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبيرَةَ الأُوَّلى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ: بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ، وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ» (الترمذي)

ژباړه : چا چې څلویښت ورځې په اخلاص داسې لمونځ وکړ چې تکبیر اُولی ترې فوت نه شي هغه ته به دوه برائت (خلاصون یا نجات ) ورکړ شي یو د دوزخ څخه او بل د نفاق څخه.





**یوولسمه فائده**

د جماعت لمونځ د هدایت لاره ده :

د جماعت لمونځ د هدایت له لارو څخه یوه لاره ده او ترک یې منافقت دی ، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وایي: «لقد رأيتنا وما يتخلف عن الصلاة إلا منافق قد علم نفاقه. أو مريض. إن كان المريض ليمشي بين رجلين حتى يأتي الصلاة. وقال: إن رسول الله صلى الله عليه وسلم علمنا سنن الهدى. وإن من سنن الهدى الصلاة في المسجد الذي يؤذن فيه» . (المسلم ۶۵۴ ) .

ژباړه : زه خپله ددې شاهد وم چې د معلوم او ښکاره منافق او مریض پرته هیچا هم د لمانځه د ادا کولو د پاره د جومات له تګ څخه مخالفت نه کولو ، تر دې چې داسې ناروغ چې په دوو نفرو به یې تګ کولو هم لمانځه ته راتلو . یقیناً جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د هدایت لارې وښودلې او باید پوه شو چې په هغه جومات کې چې اذان کیږي لمونځ کول د هدایت د لارو څخه یو هدایت دی .

**دوولسمه فائده**

د جومات طرف ته په هر قدم پورته کولو یو ګناه بښل کیږي:

ابی هریره رضی الله عنه وایي چې رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «من تطهر في بيته ثم مشى إلى بيت من بيوت الله، ليقضي فريضة من فرائض

الله، كانت خطوتاه إحداهما تحط خطيئة، والأخرى ترفع درجة» (المسلم ٦٦٦) .

ژباړه : هر څوک چې پخپل کور کې اودس وکړي او بيا د الله د کورونو نه يو کور (جومات) ته لاړ شي تر څو هلته د الله تعالى د فرضو څخه يوه فريضه ادا کړي ، يو قدم اخيستل يې د ګناه د محوې او ښلو باعث ګرځي او بل قدم يې د درجې د پورته کيدو سبب ګرځي .

ابى هريره رضى الله عنه وايي چې رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي« أَلا أَدُلُّكُمْ على ما يَمْحُو اللَّه بِهِ الخَطَايا، ويرْفَعُ بِهِ الدَّرجات؟ قَالُوا: بلى يا رَسُول اللَّه، قَال: إِسْباغُ الوُضُوءِ على المكَارِهِ وكَثْرَةُ الخُطَا إِلى المساجِد، وانْتِظَارُ الصَّلاةِ بعْد الصَّلاة، فَذلِكُمُ الرِّبَاط، فذلِكُمُ الرِّباطُ » (رواه مسلم).

ژباړه: آيا زه تاسې ته هغه اعمال وښايم چې د هغو په برکت الله تعالى ګناهونه لرې کوي او درجې لوړوي؟ صحابه کرامو وويل: هو يا رسول الله! ، هغوی ارشاد وفرمايلو : د تکليف او ناخوښۍ سره سره کامل اودس کول ، او د جوماتونو طرف ته زيات قدمونه اخيستل ، او يو لمانځه نه پس د بل لمانځه انتظار کول پس دا حقيقي رباط دى ،دا حقيقي رباط ( د الله په لار کې پهره کول ) دي .





**ديارلسمه فائده**

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د أمر متابعت :

د الله تعالى رضا د رسول الله صلى الله عليه وسلم په متابعت او پيروۍ کې ده .

لقوله سبحانه وتعالى:[قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللّهُ] (ال عمران ٣١).

ژباړه: ورته ووايه (اى محمده ) !: کچيرې تاسې له الله سره محبت لرئ نو زما پيروي وکړئ چې الله له ستاسې سره محبت وکړي.

او جناب رسول صلى الله عليه وسلم د جماعت په لمانځه زيات ټينګار کړى دى:

له أبى هريره (رضى الله عنه) نه روايت دى چې وايي: [ أتى النبي صلى الله عليه وسلم رجل أعمى. فقال: يا رسول الله! إنه ليس لي قائد يقودني إلى المسجد. فسأل رسول الله صلى الله عليه وسلم أن يرخص له فيصلي في بيته. فرخص له. فلما ولي دعاه فقال "هل تسمع النداء بالصلاة؟" فقال: نعم. قال "فأجب". ( المسلم باب يجب إتيان المسجد على من سمع النداء) .

ژباړه: يو ړوند سړى رسول (صلى الله عليه وسلم) ته راغى ويې ويل : څوک نه لرم چې جومات ته مې ورسوي او له آنحضرت صلى الله عليه وسلم نه يې اجازه وغوښتله تر څو په کور کې لمونځ وکړي ، آنحضرت صلى الله عليه

ژباړه: تر ټولو مهم د تاسې له أمور څخه ماته لمونځ دی ،پس هر چا چې د هغه حفاظت وکړ هغې خپل دين وساتلو او چا چې هغه ضايع کړ هغه ته د نورو شيانو ضايع کول آسان دي او د هغه کمال او محافظت دا دی چې لمونځ په جمع په جومات کې ادا شي .

**پنځلسمه فائده**

د ملائکو ګواهي او شهادت:

د سهار او مازديګر د لمونځونو په وخت کې ملائکې حضور لري او پر هغوی باندې ګواهي ورکوي :

له أبي هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : «يتعاقبون فيكم ملائكة بالليل ، وملائكة بالنهار ويجتمعون في صلاة الفجر وصلاة العصر ثم يعرج الذين باتوا فيكم فيسألهم ربهم – وهو أعلم – كيف تركتم عبادي فيقولون : تركناهم وهم يصلون وأتيناهم وهم يصلون » (بخارى: ٥٥٥ ).

ژباړه: ستاسې سره د شپې ملائکې او د ورځې ملائکې په نوبت اوسي ، د سهار او مازديګر د لمانځه په وخت کې سره يو ځای کيږي . وروسته هغه ملائکې چې ستاسو سره يې شپه تيره کړی وي پورته کيږي . الله تعالی (سره له دې چې د بندګانو په حال ښه پوهيږي) له هغوی څخه پوښتنه کوي : کله چې راتللی زما بنده ګانو مو په څه حال کې وليدل ؟





وسلم هغه ته اجازه ورکړه کله چې هغه سړی څه لاړو هغه ته يې غږ وکړ او ويې فرمايل : آيا آذان اورې ؟ ځواب يې ورکړ هو ، ويې فرمايل نو آذان ته به ځواب ورکوئ ( لمونځ به په جَمع ادا کوې ) .

بل حديث شريف راغلی چې جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : [لقد هممت أن آمر فِتْيَتِي فيجمعوا حزماً من حطب، ثم آتى قوماً يصلون في بيوتهم ليست بهم علَّة فأحرِّقها عليهم] (ابؤداود:٥٤٩ ).

ژباړه: ځما زړه غواړي چه يو څو ځوانانو ته ووايم چه بوټي راجمع کړي رابې وړي بيا زه هغې خلکو ته ورشم چه بې عذره په کورونو کې لمونځ کوي دهغوی کورونه وسوزوم.

**ځوارلسمه فائده**

د لمانځه کمال او پوره والی .

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «الإمام ضامن، والمؤذن مؤتمن» (صحيح ابي داؤد ).

يعني: امام د لمانځه حفاظت کوونکی او ضامن دی او مؤذن د خلکو امين او باوري دي.

حضرت عمر فاروق خپلو امراء او واليانو ته وليکل : [إنَّ أهم أمركم عندي الصلاة فمن حفظها فقد حفظ دينه، ومن ضيّعها فهو لما سواها أضيع، ومن المحافظة عليها أداؤها جماعة فى المسجد، وفي] ( ابن القيم الجوزية ص ٣٠٤ ).

ملائېکې وايي: اى زمونږ ربه ! کله چې هغوی ته ورغلو او کله چې له هغوی څخه راتلو هغوی په لمانځه او عبادت مشغول وو .

**شپاړسمه فائده**

د شیطان د شر څخه نجات :

ابی درداء رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايل: « ما مِن ثَلاثَةٍ في قَرْيَةٍ ولا بَدْوٍ لا تُقَامُ فِيهِمُ الصَّلاةُ إلاَّ قدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَان. فَعَلَيْكُمْ بِالجَمَاعَة، فَإنَّمَا يأْكُلُ الذِّئْبُ مِنَ الغَنمِ القَاصِيَةَ » (رواه أبو داود بإسناد حسن).

ژباړه: هیڅ درې کسان په کلي یا صحرا کې وجود نلري چې هلته هغوی لمونځ ادا نه کړي ، مګر دا چې شیطان پر هغوی تلسط مومي ، پس تاسې ضرور د جماعت لمونځ ادا کوئ ، ځکه چې لیوه هغه پسه خوري چې د رمې څخه لرې او یوازې وي .

**اوولسمه فائده**

د جماعت د لمونځ کوونکو زیادت د الله تعالی په نزد خوښ او محبوب دی:

ابی بن کعب رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:«صَلاةُ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكَى مِنْ صَلاتِهِ وَحْدَهُ ، وَصَلاةُ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكَى مِنْ صَلاتِهِ مَعَ الرَّجُلِ ، وَمَا كَانُوا أَكْثَرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ » ( رواه أبو داود - 554 ، والنسائي -843 - ).





ژباړه : د دو کسانو لمونځ د یو کس څخه غوره او افضل دی او د درېو کسانو لمونځ د دوو کسانو څخه غوره دی او د دوی کثرت او زیادت الله تعالی خوښ دی .

**اتلسمه فائده**

د ګناهونو بښنه :

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : « إذا أمَّن الإمام فأمنوا، فإنه من وافق تأمينه تأمين الملائكة، غفر له ماتقدم من ذنبه ».

ژباړه : کله چې امام آمین وايي تاسې هم آمین ووايئ پس که د چا آمین د ملائکو د آمین سره موافق شو هغه ته به د مخکې ګناهونو بښنه وشی

**نولسمه فائده**

د الله تعالی ساتنه او حفاظت :

لقوله رسول الله صلی الله علیه وسلم : «من صلى الصبح فهو في ذمة الله» (رواه مسلم).

يعني : څوک چې د سهار لمونځ ادا کړي هغه د الله په ذمه کې دی.

او ابن ماجه او طبراني روایت نقل کړی چې: «من صلى الصبح في جماعة فهو في ذمة الله» .

ژباړه : څوک چې د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړي هغه به د الله په ذمه او ساتنه کې وي.

## شلمه فائده

د الله تعالی او ملائکو درود :

عائشة رضي اللَّه عنها وايي چې رسول اللَّه صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « إنَّ اللَّه وملائِكَتَهُ يُصلُّونَ على ميامِنِ الصُّفوف » (رواه أبو داود بإِسناد عَلى شرْطِ مُسْلِم).

ژباړه : يقيناً الله تعالی او د هغه پرېښتې د امام ښي اړخ ته صفونو باندې درود وايي .

او فرمايي : « إن اللَّه وَملائِكَتَهُ يُصَلُّونَ على الصُّفُوفِ الأُوَلِ» (ابوداود باسناد حسن).

ژباړه : يقيناً الله تعالی او د هغه پرېښتې په لومړيو صفونو باندې درود وايي

.

## يوويشتمه فائده

په اول وخت کې لمونځ کول افضلترين عمل دی :

ابن مسعود رضی الله عنه وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه چه کوم عمل بهتر دی ، نبی صلى الله عليه وسلم وفرمايل : « الصَّلاَةُ عَلَى وَقْتِهَا ، قلتُ : ثُمَّ أيٌّ ؟ قَالَ : بِرُّ الوَالِدَيْنِ ، قلتُ : ثُمَّ أيٌّ ؟ قَالَ : الجِهَادُ في سَبِيلِ اللهِ » (متفقٌ عَلَيهِ).





ژباړه: په خپل وخت لمونځ کول ،ماوويل ددی نه ورسته ؟ نبی صلی الله عليه وسلم وفرمايل دمور او پلار سره ښه سلوک !ماپوښتنه وکړه ددی نه ورسته کوم؟ هغوی صلی الله عليه وسلم وفرمايل د الله تعالی په لار کی جهاد کول .

## دوه ويشتمه فائده

د زړه د مهر او غفلت څخه نجات :

له ابی هريره او ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې : رسول الله صلی الله عليه وسلم پر منبر باندې فرمايل : « لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الجمُعَات، أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللَّه على قُلُوبِهم، ثُمَّ لَيَكُونُنَّ مِنَ الغَافِلِينَ » (رواه مسلم).

ژباړه: خلک دې د جُمعی د ترک کولو نه منع شي که نه نو الله تعالی به د دوی پر زړونو مهر ولګوي او بيا به هغوی د غافلينو څخه وشميرل شي.

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :«من ترك الجمعة ثلاث جمع تهاوناً، طبع الله على قلبه» (صحيح الحاكم و اصحاب السنن).

ژباړه : څوک چې د سستی له وجې د دريو جُمعو لمونځونه ترک کړي الله تعالی به د هغه په زړه باندې مهر ولګوي .

څوک چې د پنځه وخته جماعت سره عادت وي هغه هيڅکله د جُمعې لمونځ نه ترک کوي ځکه چې د جُمعې د لمانځه اقامه فرض ده .

## دروېشتمه فائده

د دعا د قبول لپاره غوره فرصت :

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «الدعاء ولايرد بين الاذان والاقامة» (رواه ترمذي و ابوداود ) .

ژباړه: د آذان او اقامت په مينځ کې دعا نه رديږي بلکې قبليږي .

او فرمايي: «تفتح الابواب السماء ويستجاب الدعاء فى اربعة مواطن عند التقاء الصفوف فى سبيل الله وعند نزول الغيث وعند اقامة الصلوة و عند رؤية الكعبة» (رواه طبراني فى الكبير ) .

ژباړه: په خلورو وختونو کې د آسمان دروازې پرانستل کيږي او دعا ضرور قبليږي (١) د الله تعالى په لار کې د جهاد د صوفونو مخامخ کېدو په وخت کې (٢) کوم وخت چې د آسمان نه باران وريږي . (٣) د اقامه صلات په وخت کې . (۴) د کعبې شريفې د ليدلو په وخت کې .

## څلورويشتمه فائده

د مسلمانانو تر مينځ اتحاد او اتفاق :

براء بن عازب رضى الله عنه وايي چې : رسول الله صلى الله عليه وسلم به د صف يو لورې څخه تر بل لورې پورې داخلېدو او زمونږ سينې او اوږې يې سيده کولې او فرمايل به يې : «لا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ » (رواه أبو داود بإسناد حَسَن).





ژباړه: اختلاف مه کوئ (صفونو کې) تر څوک ستاسې زړونه يو له بله مخالف نشي .

او جناب رسول صلى الله عليه وسلم فرمايي : چې د الله تعالى مرسته او مدد له جماعت سره دی .

و قال عليه السلام : «يد الله مع الجماعة » (صحيح الجامع) .

## پنځه ويشتمه فائده

د جماعت د فوت په صورت کې ثواب :

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:«من توضأ فأحسن وضوءه، ثم راح فوجد الناس قد صلوا، أعطاه الله مثل أجر من صلاها وحضرها، لا ينقص ذلك من أجرهم شيئًا».

ژباړه : څوک چې په ښه شان سره اودس وکړي ، بيا (جومات ته ) لاړ شي او خلک په داسې حال کې ومومي چې لمونځ يې ادا کړی وي ، الله تعالى به ده ته د هغه چا اجر ورکړي چې لمونځ يې کړي وي او حاضر شوي وي ، نه به کميږي د هغوی د اجر نه هيڅ شی .

## شپږويشتمه فائده

د ظاهري هيئت نظافت او تنظيم :

د بدن ، جامو ظاهري هيئت نظافت او تنظيمول ځکه چې هغه د خپلو ورونو سره يو ځای او د هغوی سره ملاقات کوي ، مګر منفرد او يوازې کس ددې شي خيال نه ساتي او ډير ځله د الله تعالی د دغه حکم مخالف کوي چې فرمايي : [يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ] (الأعراف:٣١) .

ژباړه: ای د ادم اولاده! تاسو خپل زينت (لباس) واخلئ د هر لمانځه په وخت کې ( د لمانځه د پاره غوره او پاک لباس واغوندئ).

تنها لمونځ کوونکی ځينې وخت د کار په جامه يا زېرپرانی کې لمونځ کوي چې داسې کول خلاف اولی او د مروت خلاف دي .

## اوويشتمه فائده

د مسلمانانو عزت او وقار :

د مسلمانانو د عزت اظهار ، د ورځې پنځه ځله د مسلمانانو اجماع او ټولېدل د هغوی د کثرت ، اجماع او قوت اظهارول .

## اته ويشتمه فائده

د تعليم او زده کړې فرصت :





د جماعت لمونځ د لمانځه او دين د تعليم لپاره ښه فرصت دی ، ځکه په جومات کې حضور د شرعي علم زده کولو ، وعظ او نصيحت اورېدو ځای دی .

## نه ويشتمه فائده

محبت او مساوات :

د مسلمانانو تر مينځ محبت او مساوات ، د اسلام له سترو مقاصدو څخه يو مقصد دا دی چې د مسلمانانو په زړونو کې يو له بله محبت وي او مساوات برقرار شي چې دا مقصد د جماعت په ادا کولو سره تر سره کيږي ، ټول مسلمانان په هر مرتبه کې چې وي برابر په يو صف کې دريږي او د جماعت د لمانځه په وسيله يو له بله محبت کوي که څه هم يو له بله هيڅ سره نه پيژني .

## درشمه فائده

تعارف او پيژنګلوي :

د جماعت لمونځ د تعارف او پيژنګلوی سبب دی چې د هغه په وسيله مسلمانان يو له بله پيژني ، ټولنيز روابط پې قوي کيږي د مريض ، فقير او نورو حالاتو څخه خبريږي ځکه چې مسلمانان د يو جسد پشان دي .

په حديث شريف کې چې راغلي : «المؤمنون كالجسد الواحد اذا اشتكي منه عضوا تداعي له سائر الجسد بالحمى والسهر ».

يعني : مؤمنان لکه يو جسد داسې دي ، کله چې د هغه يو اندام نا آرام شي نو ټول بدن يې ورسره په برياد ، تبه او نا آرام شي.

**يودرشمه فائده**

د ژوند د ترتيب او تنظيم زده کړه :

د جماعت په ادا کولو کې د ټول ژوند ترتيب او تنظيم زده کيږي ځکه کوم کس چې کله د لمانځه په وخت او جماعت عادت شو ټول کارونه به يې همداسې منظم وي او پر وخت به برابر وي ځکه د جماعت د لمانځه په حفاظت کې د اوقاتو او وختونو د پابندۍ عملي درس دی .

**دوه درشمه فائده**

د رحمت نزول :

په جوماتونو کې د ذکر او عبادت د پاره د مسلمانانو اجتماع او ټولېدل د رحمت او سکون د نزول سبب دی .

**درى درشلمه فائده**

په عبادت کې نفسي تشويق او ترغيب :

د نورو مسلمانانو په ليدلو او د ځان څخه د لوړې تقوى او غوره خشوع او عبادت کوونکو په دليلو سره تشويق چې په دې سره مسلمان ته لويه فائده رسيږي ، سستي او تنبلي يې له مينځه ځي .





**يادونه :** مسلمانې خويندې چې کله د آذان ځواب ورکړي او ورسته په اول وخت کې پخپل مصلى ( د لمانځه ځاى) کې لمونځ ادا کړي هغوى ته د جماعت ثواب ورکول کيږي ، حتى د ښځې لپاره پخپل کور کې لمونځ کول د جومات نه غوره دى .

په حديث شريف کې راغلي :«وبيوتهن خير لهن» (أبو داود وابن خزيمة).

ژباړه :او د دوى کورونه (د لمانځه د ادا کولو د پاره ) غوره دي (زيات ثواب لري نسبت جومات ته).

او بل حديث شريف راغلي : «خير مساجد النساء قعر بيوتهن» (رواه أحمد ۶/۲۹۷ ).

ژباړه : د ښځو لپاره غوره جوماتونه د دوى کورونه دي .

يعنې: مسلمانه خور چې کله آذان اروي د هغه ځواب به ورکوي بيا به د آذان دعا ووايي او ورپسې به په همدې اول وخت کې لمونځ کوي.

و ما توفيقي الا بالله عليه توکلت واليه انيب

و صلى الله تعالى على محمد صلى الله عليه وسلم و على اله و صحابه اجمعين.

حمدالله "شاکري"

غفر الله له ولوالديه ولجميع المسلمين

دراسات الاسلامي: الاكاديمية الاسلامية العالمية

دراسات عصرية : انجنيرى کابل پوهنتون